د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 517

(16 - 21 غبرګولی 1405 هـ ش)

## د افغانستان اسلامي امارت او روسيې ترمنځ امنيتي هوکړې ته يوه کتنه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغانستان اسلامي امارت او روسيې ترمنځ امنيتي هوکړې ته يوه کتنه ........................................ 3
- د اسلامي امارت او روسيې اړيکي ستراتيژيکو کچې ته لوړول ............................................ 3
- د افغانستان په اړه د مسکو د نظر په بدلولو کې د اسلامي امارت چلند ................................... 4
- د اسلامي امارت لپاره له روسيې سره د پوځي-تخنيکي تړون لاسليک کولو ګټې ........................ 5
- د روسيې لپاره د دې تړون ګټې ........................................................................ 6
- د منځنۍ اسيا پر هېوادونو باندې د دې تړون اغېزې .................................................... 7
- د دې تړون پر وړاندې د لويديځو هيوادونو، په ځانګړې توګه د متحده ايالاتو احتمالي غبرګون ......... 8
- پايله ..................................................................................................... 9
- وړانديزونه .............................................................................................. 9
- سرچينې ................................................................................................. 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغانستان اسلامي امارت او روسيې ترمنځ امنيتي هوکړې ته يوه کتنه

### سريزه

په دې وروستيو کې د افغانستان اسلامي امارت او روسيې ترمنځ د پوځي-تخنيکي همکارۍ په برخه کې يو تړون لاسليک شو. که څه هم د دې تړون ټول اړخونه لا نه دي خپاره شوي، خو د دواړو خواوو د چارواکو د څرګندونو له مخې، د دې تړون اصلي محورونه په افغانستان کې د روسيې جوړ شوي پوځي تجهيزاتو ترميم او بيارغونه، د پوځي زيربناوو پياوړتيا او په دفاعي سکتور کې د تخنيکي همکارۍ پراختيا شامله ده.[1] په لومړۍ ليدنه کې دا تړون ممکن د محدود تخنيکي او نظامي همکارۍ په څېر ښکاري، مګر که له نږدې وڅارل شي نو اهميت يې د تخنيکي او وسلو له ابعادو څخه ډېر دی. د دې پرمختګ اهميت يوازې دوه اړخيزو اړيکو پورې محدود نه دی. دا تړون کولی شي د اسلامي امارت نظامي وړتياوې، د افغانستان سيمه ييز موقعيت، د منځنۍ آسيا هېوادونو امنيتي محاسبې او حتی د روسيې او لويديځ ترمنځ جيوپوليټيکې سيالۍ اغيزمنې کړي. همدارنګه دا پوښتنه هم راپورته کيږي چې د کومو لاملونو پر اساس روسيې د اسلامي امارت پر وړاندې خپل چلند بدل کړی او ولې مسکو اوس د امنيت او دفاع په څېر حساسو برخو کې کابل سره همکارۍ ته ليواله دی. پر دې اساس دا مقاله هڅه کوي چې دا وروستۍ موافقه د څلورو اصلي مسلو په چوکاټ کې تحليل کړي: د اسلامي امارت په اړه د روسيې د نظر د بدلون لاملونه، د کابل حکومت لپاره د دې هوکړې اغيزې، د اسلامي امارت سره د همکارۍ په پراخولو کې د روسيې ګټې او موخې او د دې پرمختګ سيمه ييز او نړيوالې اغيزې. د تحليل اصلي فرضيه دا ده چې دا وروستۍ پوځي-تخنيکي تړون يوازې تخنيکي همکاري نه ده، بلکې د اسلامي امارت -روسيې اړيکو د تدريجي لوړوالي نښه ده چې ستراتيژيکې کچې ته لوړه شي او له افغانستان څخه د امريکا له وتلو وروسته په سيمه کې د جيوپولټيک بدلونونو انعکاس دی.

### د اسلامي امارت او روسيې اړيکې ستراتيژيکو کچې ته لوړول

د نړيوالو اړيکو په تيوريو کې د دولتونو ترمنځ د همکارۍ مختلفې کچې له اقتصادي او سوداګريزو اړيکو څخه تر سياسي، امنيتي او دفاعي همکاريو پورې لري. د دې کچو ترمنځ اصلي توپير د تعهد، معلوماتو حساسيت او د متقابل باور په کچه کې دی. که څه هم اقتصادي همکاري مهمه ده، معمولا د حياتي معلوماتو افشا کولو يا د امنيتي ملاحظاتو د يوې برخې ليږد ته اړتيا نلري، مګر نظامي يا امنيتي همکاري په مستقيم ډول د دولتونو د حاکميت، ملي امنيت او سياسي بقا سره تړاو لري. له همدې امله، دولتونه په کمه کچه د اړخونو سره داسې همکارۍ ته ننوځي چې دوی په خپل ثبات، دوام او اعتبار باوري نه وي. له دې ليد څخه، د اسلامي امارت سره د نظامي همکارۍ په ډګر کې د روسيې ننوتل له خالص تخنيکي، عملي يا لنډمهاله اړيکو هاخوا ځي. دا ډول همکاري ښيي چې مسکو اسلامي امارت د سيمې په امنيتي معادلو کې د يو اغيزمن

او باوري لوبغاړي په توګه ارزوي او نه يوازې داچې اسلامي امارت د ځان او خپل امنيتي چاپيريال لپاره د ګواښ په توګه نه ارزوي، بلکې يو باوري اړخ يې هم ګڼي. په حقيقت کې، په نړيوال سياست کې، د همکارۍ کچه خومره ژوره او حساسه وي، هومره باور او د ګوندونو ترمنځ اوږدمهاله ګډې ګټې زياتې وي، چې دا د روسيې او اسلامي امارت ترمنځ د تعامل په بهير کې ليدل کيږي. په هر صورت، يوه پوښتنه چې کيدی شي دا وي چې ولې روسيې د اسلامي امارت په وړاندې په خپل بهرني سياست کې دومره لوی بدلون راوستی دی، په ځانګړې توګه په لنډ وخت کې (په تېرو دوو يا دريو کلونو کې)؟ په بل عبارت، کوم عوامل د دې لامل شوي چې امارت له ګواښ څخه د مسکو لپاره د يو باوري ملګري په توګه بدل شو؟ په چلند کې دا بدلون د څو عواملو له امله رامينځته شوی، چې تر ټولو مهم يې د روسيې او د هغې شاوخوا چاپيريال سره د اسلامي امارت چلند دی.

## د افغانستان په اړه د مسکو د نظر په بدلولو کې د اسلامي امارت چلند

د بل هر عامل په پرتله، د اسلامي امارت په اړه د روسيې د مثبت ليد د پام وړ زياتوالی تر ډېره د اسلامي امارت د هغه سنجول شوي، محتاطانه او د کړکېچ کمولو پر بنسټ چلند پايله ګڼل کېږي چې واک ته له بېرته راستنېدو وروسته يې له روسيې او د هغې له شاوخوا سيمه‌ييز چاپېريال سره خپل کړی دی. روسيه له ۲۰۲۱ کال وروسته له يوې اساسي پوښتنې سره مخ وه: آيا اسلامي امارت به د منځنۍ اسيا لپاره د بې‌ثباتۍ او افراط‌ګرۍ د خپرولو په سرچينه بدل شي او که به د ثبات د ساتونکي ځواک رول ولوبوي؟ په تېرو څو کلونو کې د اسلامي امارت عملي چلند تر ډېره د دغې پوښتنې په اړه د مسکو ځواب ټاکلی او شکل ورکړی دی.

لومړی، د ډېرو لومړنيو اندېښنو پر خلاف، اسلامي امارت د انقلاب د صادرولو يا په ګاونډيو هېوادونو لکه ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان کې د اسلام‌پالو خوځښتونو د پارولو له سياست څخه ډډه کړې ده. همدارنګه يې هېڅ هڅه نه ده کړې چې ځان د سيمې د اسلامي خوځښتونو د مشر په توګه معرفي کړي .د روسيې لپاره، چې د منځنۍ اسيا امنيت په مستقيم ډول له خپل ملي امنيت سره تړلی ګڼي، له پولې هاخوا د لاسوهنې څخه دغه ډډه کول ستراتيژيک او راهبردي اهميت درلود.

دويم، اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د دولت‌محورې تګلارې غوره کړه او هڅه يې وکړه چې د سيمې له دولتونو سره رسمي تعاملات او اړيکې ټينګې کړي. د کرملين لپاره دغه چلند د دې نښه وه چې اسلامي امارت له يوه «ياغي خوځښت» څخه د حکومتي او دولتي لوبغاړي پر لور د بدلون او اوښتون په حال کې دی.

دریېیم، په امنيتي ډګر کې اسلامي امارت وښودله چې د خراسان داعش ډله د ځان پر وړاندې يو جدي ګواښ ګڼي او په عملي توګه يې له دې ډلې سره مبارزه او نښتې وکړې. د مسکو له نظره داعش د افغانستان له خاورې راټوکېدلی تر ټولو مهم امنيتي ګواښ دی او هر څومره چې اسلامي امارت له داعش سره مبارزه پیاوړې کوي، هماغومره د دغه خطرناک دښمن پر وړاندې د مسکو د حل‌لارې يوه برخه ګرځي.

څلورم، اسلامي امارت کولای شول د شوروي اتحاد لخوا د افغانستان د اشغال پخوانۍ دور را یاده کړي او له روسيې سره تاريخي کړکېچ رامنځته کړي؛ خو په عمل کې يې د نننۍ روسيې او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ توپیر وکړ او لدې لارې يې ډېده وکړه. پر ځای يې د ایډیالوژیکې تقابل پر ځای د عمل‌محورې همکارۍ تګلاره غوره کړه.

پنځم، د نشه‌يي توکو د کر کیلې او قاچاق پر ضد د اسلامي امارت جدي او اغېزمنې مبارزې هم د اسلامي امارت په اړه د مسکو د مثبت لید په رامنځته کېدو کې مهم رول درلود.

شپږم او تر دې هم مهمه دا چې اسلامي امارت د روسيې او د منځنۍ اسيا د هېوادونو په وړاندې نسبتاً ثابت او د اتکل وړ چلند غوره کړ. په نړیوالو اړیکو کې لوی څواکونه ډېر ځله د ایډیالوژیکې همغږۍ په پرتله د مقابل لورې د چلند وړاندوينه کېدنه لا ارزښتمنه ګڼې، ځکه دا هغوی ته د اوږدمهاله پلان جوړونې زمینه برابروي.

روسيه په تېرو لسيزو کې د اسلامي امارت د نه اټکل کېدونکي چلند له امله له شک او ستراتيژيک ابهام سره مخ وه؛ خو له ۲۰۲۱ کال وروسته د اسلامي امارت نسبتاً باثباته چلند دغه اندېښنه تر ډېره له منځه یوړه. له همدې امله استدلال کېدای شي چې له اسلامي امارت سره د روسيې نږدېوالی يوازې د مسکو د جيوپوليټيکي اړتياوو محصول نه دی، بلکې د هغې يوه مهمه برخه د اسلامي امارت د سنجول شوي چلند او تګلارې پايله ده. اسلامي امارت هڅه کړې چې مسکو ته دا ډاډ ورکړي چې د ده تر واک لاندې افغانستان به د بې‌ثباتۍ، افراطيت او د ګاونډيو هېوادونو په چارو کې د لاسوهنې د صادرولو په مرکز بدل نه شي. که روسيه نن اسلامي امارت د پوځي او امنيتي همکاريو په ډګر کې د يوه احتمالي شريک په توګه ګوري، نو دا يوازې د کرملين د محاسباتو د بدلون له امله نه دي، بلکې د روسيې او منځنۍ اسيا په وړاندې د اسلامي امارت د څو کلن محتاط، عمل‌محور او د کړکېچ کمولو پر بنسټ چلند پايله هم ده.

## د اسلامي امارت لپاره له روسيې سره د پوځي-تخنيکي تړون لاسليک کولو ګټې

د روسيې سره د امنيتي هوکړې احتمالي ګټې او ارزښتونه د اسلامي امارت لپاره په پوځي، امنيتي، سياسي او جيوپوليټيکي کچو ارزول کېدای شي. په پوځي برخه کې، دا هوکړه کولی شي په افغانستان کې


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د پخواني شوروي اتحاد او روسیې د هغو وسلو او تجهیزاتو د بیا رغونې زمینه برابره کړي چې په تېرو کلونو کې د زړښت، د پرزو د کمښت او د تخنیکي ملاتړ د نشتوالي له امله له عملي کارونې وتلي دي. له روسیې سره همکاري د دغو ظرفیتونو په بیا فعالولو او همدارنګه د نوو پرزو او تجهیزاتو په نسبتاً ټیټه بیه او اسانه لاسرسي کې مرسته کولای شي. سربېره پر دې، اسلامي امارت ته دا فرصت برابرېږي چې د روسیې له تخنیکي او روزنیزو تجربو څخه ګټه واخلي او د خپل ځواکونه د روسیې پوځي او تعلیمي مرکزونو ته د لېږلو له لارې خپلې پوځي، استخباراتي او تخنیکي وړتیاوې لوړې کړي. په پوځي ـ امنیتي ډګر کې، له مسکو سره نږدې همکاري کولی شي د اسلامي امارت ظرفیت د ځینو دښمنو هېوادونو او همدارنګه د داعش خراسان او نورو وسلهوالو ډلو چې له پولې هغې خوا فعالیت کوي، پر وړاندې زیات کړي. د روسیې پرمختللو تجهیزاتو، استخباراتي معلوماتو او امنیتي تجربو ته لاسرسی به د ځارنې، استخباراتو او د ترهګرۍ ضد مبارزې وړتیاوې پیاوړې کړي. په همدې تړاو، د اسلامي امارت د دفاع وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد له مسکو څخه تر راستنېدو وروسته ویلي وو چې هڅه کوي داسې شرایط رامنځته شي چې پاکستان نور پر افغانستان د برید جرئت ونه کړي. همدارنګه، د بی بی سی په وینا د ځینو رسنیزو راپورونو له مخې ویل شوي چې روسیې له اسلامي امارت سره د هوایي دفاعي تجهیزاتو د برابرولو موافقه کړې ده.[2] له سیاسي اړخه، دا هوکړه د اسلامي امارت لپاره د نړیوالې انزوا د کمېدو په لور یو مهم ګام بلل کېدای شي، ځکه له یوې ستر نړیوال ځواک سره امنیتي همکاري دا ښیي چې اسلامي امارت په تدریجي ډول د سیمهییزو معادلو د یوه اغېزمن او د تعامل وړ لوري په توګه منل کېږي. په جیوپولیټیکي کچه، دا همکاري کولی شي د اسلامي امارت د مانور ځواک زیات کړي او پر ځینو ځانګړو لوبغاړو یې تکیه راکمه کړي. همدارنګه، له روسیې سره نږدېوالی د اسلامي امارت لپاره یو ډول سیاسي بازدارندګي رامنځته کولای شي او د سیمې هېوادونو ته دا پیغام رسوي چې افغانستان نور یو منزوي او له بهرني ملاتړ پرته هېواد نه دی. په پای کې، دا ډول هوکړه کولی شي له اسلامي امارت سره مرسته وکړي چې خپل انځور له یوه پخواني «وسلهوال خوځښت» څخه د یوې مسؤلې ادارې او سیمهییز امنیتي شریک په توګه بدل کړي. د دې بدلون پایله به له روسیې او نورو سیمهییزو قدرتونو سره د اقتصادي، سیاسي او امنیتي همکاریو د پراخېدو لپاره لا ډېر فرصتونه رامنځته کړي.

## د روسیې لپاره د دې تړون ګټې

روسیه له اسلامي امارت سره د نږدې او ستراتیژیک تعامل له لارې په عمومي توګه پنځه مهمې موخې او ګټې تعقیبوي:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لومړی: په منځنۍ اسیا کې د امنیتي ګواښونو مهارول: مسکو اندېښنه لري چې له افغانستانه ناامن کوونکې وسلهوالې ډلې تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ته پراخې نه شي. له همدې امله د کابل له واکمن ځواک سره همکاري د یادو شته ډلو سره د مقابلې په پرتله لږ لګښت لرونکې او اغېزمنه لاره ګڼي.

دویم: د لوېدیځ د نفوذ د بیا راګرځېدو مخنیوی: روسیه افغانستان د خپل امنیتي چاپېریال یوه برخه ګڼي او نه غواړي چې لوېدیځ یو ځل بیا په دې هېواد کې سیاسي، استخباراتي یا پوځي حضور پیدا کړي.

درېیم: له امریکا سره جیوپولیټیکه سیالي: کرملین د اسلامي امارت سره د نږدې اړیکو په ساتلو دا پیغام ورکوي چې لا هم کولای شي په هغو سیمو کې نفوذ ولري چې پخوا د واشنګټن تر اغېز لاندې وې.

څلورم: اقتصادي فرصتونه: افغانستان د خپلو بډایو معدني سرچینو او د منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ د ترانزیټي موقعیت له امله په راتلونکي کې د سیمې د سوداګریزو دهلېزونو مهمه برخه کېدای شي، چې دا د روسیې لپاره اقتصادي ارزښت لري.

پنځم: روسیه له څو کلونو راهیسې د اوکراین په جګړه کې بوخته ده، د افغانستان په څېر مهمو هېوادونو سره د سیاسي، اقتصادي او پوځي اړیکو پراختیا کولای شي د اوکراین د جګړې له امله پر روسیې وارد شوي ځینې فشارونه راکم کړي.

په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د ګډو ګټو یوه مهمه نقطه د لوېدیځ تر مشرۍ لاندې نړیوال نظم پر وړاندې انتقادي دریځ دی. روسیه د داسې څو قطبي نړۍ غوښتونکې ده چې د لوېدیځ نفوذ پکې محدود وي او اسلامي امارت هم له اوسني نړیوال جوړښت څخه چې پرې سیاسي او اقتصادي فشارونه راوړي، ناخوښه دی. له همدې امله د روسیې او اسلامي امارت نږدېوالی لږ تر لږه د نړۍ په دې برخه کې کولای شي هغه لوېدیځمحور نظم چې دواړه لوري یې د خپلو ګټو پر خلاف بولي، تر پوښتنې لاندې راولي او د هغه اغېزې کمزورې کړي.

### د منځنۍ اسیا پر هېوادونو باندې د دې تړون اغېزې

د روسیې او طالبانو ترمنځ د پوځي همکارۍ هوکړه یوازې یوه دوه اړخیزه همکاري نه ده، بلکې دا د افغانستان د نښلولو یوه هڅه هم ګڼل کېدای شي. له هغو امنیتي ترتیباتو سره چې روسیه یې په منځنۍ اسیا کې ملاتړ کوي. روسیه په تېرو درېیو لسیزو کې د منځنۍ اسیا له مهمو امنیتي لوبغاړو څخه پاتې شوې ده او د پوځي حضور، استخباراتي همکاریو او د منځنۍ اسیا له دولتونو سره د نږدې اړیکو له لارې یې د پولې هاخوا ګواښونو په مدیریت کې مهم رول لوبولی دی. خو افغانستان تل د دې امنیتي چوکاټ څخه بهر یوه کړۍ ګڼل کېده او همدې موضوع د سیمې هېوادونو، په ځانګړې توګه تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ته اندېښنې پیدا کړې وي. وروستۍ هوکړه دا پیغام لېږدوي چې مسکو نور یوازې د منځنۍ اسیا د جنوبي پولو په ساتنه بسنه نه کوي، بلکې غواړي د ګواښونو سرچینه هم مدیریت کړي او دا کار د کابل له واکمن ځواک سره د مستقیمې همکارۍ له لارې ترسره کړي. د روسیې له نظره، طالبان کولای شي د داعش خراسان، د پولې هاخوا قاچاق او نورو امنیتي بې‌ثباتیو پر وړاندې د دفاع لومړۍ کرښه وګرځي. دا تګلاره د مسکو امنیتي لګښتونه هم راکموي او د امنیتي ګواښونو د کنټرول لپاره یو نسبتاً ارزانه میکانیزم برابروي. د منځنۍ اسیا د هېوادونو لپاره هم دا همکاري تر یوه بریده ډاډ ورکوونکې ده، ځکه ښیي چې له افغانستانه راولاړېدونکي ګواښونه د مدیریت وړ ګرځي او د کابل او مسکو ترمنځ د هغو د مقابلې لپاره رسمي همغږي او د اړیکو کانالونه رامنځته شوي دي. په ورته وخت کې، دا هوکړه په سیمه ییز چاپېریال کې د اسلامي امارت د مقام په بیا تعریف کې هم مرسته کوي. هغه ډله چې یو وخت یوازې د بې‌ثباتۍ د عامل په توګه ګڼل کېده، اوس په تدریجي ډول د سیمه‌ییزو معادلو د یوه احتمالي امنیتي شریک په توګه تر پام لاندې نیول کېږي. که څه هم لا تر اوسه د جنوبي اوراسیا لپاره د یوه نوي امنیتي نظم د رامنځته کېدو په اړه خبرې کول وختي دي، خو دا هوکړه ښایي د افغانستان د سیمه‌ییزو امنیتي ترتیباتو پر لور د نږدې کېدو او د منځنۍ اسیا د هېوادونو د هغو اوږدمهالو اندېښنو د کمېدو لومړنی ګام وي چې د خپلو جنوبي پولو د امنیت په اړه یې لري. په یوه پراخ لید کې، د روسیې او افغانستان همغږي ښایي د لویې منځنۍ اسیا د امنیتي مجموعې په چوکاټ کې د لا پراخو پوځي ـ امنیتي ترتیباتو د رامنځته کېدو لامل شي؛ داسې ترتیبات چې ایران هم پکې شامل وي. د دې احتمال یو دلیل دا دی چې روسیه او ایران په ډېرو سیمه‌ییزو موضوعاتو کې نسبتاً نږدې دریځونه لري او د افغانستان ـ منځنۍ اسیا په محور کې د دغو دوو قدرتونو ګډې ګټې د داسې امنیتي همغږۍ د پراختیا زمینه لا پیاوړې کولای شي.

## د دې تړون پر وړاندې د لویدیځو هیوادونو، په ځانګړې توګه د متحده ایالاتو احتمالي غبرګون

د روسیې او اسلامي امارت د اړیکو تودوالی او د پوځي همکارۍ تر کچې رسېدل، به په ډېر احتمال سره د واشنګټن او د هغه د متحدینو له لوري غیرمستقیم خو معنادار غبرګونونه ولري. په سیاسي برخه کې، امریکا به پر دې فشار لا زیات کړي چې اسلامي امارت په نړیوالو سازمانونو کې په رسمیت ونه پېژندل شي، څو د کابل حکومت ته د مسکو په مدار کې د مشروعیت ترلاسه کولو مخه ونیسي. په اقتصادي برخه کې، مالي او بانکي بندیزونه ته به د یوې وسیلې په توګه دوام ورکړي، ترڅو افغانستان په بشپړ ډول د روسیې تر نفوذ لاندې اقتصاد سره یوځای نه شي. خو تر ټولو مهم د سیالۍ ډګر امنیتي ساحه ده، چیرې چې غیرمستقیم لوبغاړي اساسي رول لوبوي. په دې چوکاټ کې، د داعش خراسان ډلې دوامداره فعالیت چې هم د اسلامي امارت او هم د روسیې ګډ ګواښ ګڼل کېږي، ښایي د داسې یوې وسیلې په توګه وکارول شي چې د کابل واک کمزورۍ کړي او له مسکو سره د ستراتیژیکو همکاریو بهیر کم رنګه کړي. همدارنګه د اسلامي

امارت مخالفې ډلې، که څه هم اوس مهال هم غږي او پوځي وړتیاوې نه لري، خو د جیوپولیټیکو سیالیو د زیاتېدو په صورت کې ښايي بیا فعالې شي. ځینې هیوادونه لکه پاکستان، چې په افغانستان کې د نفوذ وسایل لري، کولی شي د نوي قدرت توازن په رامنځته کېدو کې رول ولوبوي. خو د سړې جګړې په څېر د نیابتي جګړو پراختیا ببرته راتګ ډېر احتمال نه لري؛ بلکې هغه څه چې امکان لري، د محدود او غیرمستقیم امنیتي رقابت رامنځته کېدل دي، چې په کې د افغانستان پاتې ناامني د قدرت د توازن د فشار د وسیلې په توګه کارول کېږي.[3]

## پایله

په ټولیز ډول د روسیې او اسلامي امارت ترمنځ پوځي ـ تخنیکي هوکړه یوازې د نظامي تجهیزاتو د ترمیم یو تخنیکي قرارداد نه شي ګڼل کېدای، بلکې باید د کابل او مسکو د اړیکو د تدریجي بدلون او د ستراتیژیکو همکاریو پر لور د حرکت یوه نښه وګڼل شي. د دې هوکړې تر ټولو مهمه لاسته راوړنه د اسلامي امارت لپاره د افغانستان د پوځي او امنیتي ظرفیتونو لوړونه ده. د زړو روسي وسلو بیا رغونه، پرزو او پوځي ټکنالوژۍ ته اسانه لاسرسی، د روسیې له نظامي روزنو او تجربو څخه ګټه اخیستل او په راتلونکي کې د دفاعي همکاریو د پراختیا احتمال، کولی شي د اسلامي امارت د ځواکونو جنګي او عملیاتي وړتیا په تدریجي ډول لوړه کړي. که دا بهیر دوام ومومي، افغانستان به نه یوازې د لوېدیځ د دورې له پاتې تجهیزاتو څخه خپل تکیه کمه کړي، بلکې ښايي داسې پوځي او امنیتي وړتیا ته ورسېږي چې وکولای شي داخلي او فرامرزي ګواښونه په نسبي خپلواکه توګه مدیریت کړي. همدارنګه دا بهیر کولی شي د سیاسي او امنیتي بازدارندګۍ یو ډول رامنځته کړي او د افغانستان مقام د سیمې په معادلو کې لوړ کړي. په ورته وخت کې، دا همکاري د روسیې لپاره هم د جنوبي منځنۍ اسیا د امنیتي ګواښونو د مدیریت او د خپلو شاوخوا مهمو سیمو کې د نفوذ د ساتلو یوه وسیله ده. خو د دواړو لورو اړیکې تر ډېره د ایډیالوژیکې همغږۍ پر ځای د ګډو ګټو پر بنسټ ولاړې دي او دوام یې هم د همدې ګډو ګټو له استمرار سره تړلی دی. له همدې امله، راتلونکی به دا روښانه کړي چې آیا دا همکاري به د یو باثباته او له امنیتي پلوه فعال افغانستان د رامنځته کېدو لامل شي او که به د لویو نړیوالو قدرتونو د جیوپولیټیکو سیالیو تر اغېز لاندې له نویو محدودیتونو سره مخ شي.

## وړاندیزونه

د دې تحلیل د موندنو پر بنسټ لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۱- که څه هم د روسيې او اسلامي امارت پوځي ـ تخنيکي همکاري د هېواد د پوځي بنسټونو د پياوړتيا لپاره يو مثبت گام گڼل کېږي، خو د لوېديځو قدرتونو د احتمالي منفي غبرگونونو په وړاندې بايد بشپړ چمتووالی او مناسب دفاعي تدابير ونيول شي.

۲- اسلامي امارت کولی شي له موجودې هوکړې څخه په گټې اخيستنې سره د روسيې په همغږۍ د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره خپل پوځي ـ امنيتي تعامل زيات کړي او په دې برخه کې د دغو هېوادونو سره دوه اړخيز او څو اړخيز تړونونه هم رامنځته کړي.

## سرچيني

[1]. گزارش: روسیه و طالبان توافقنامه همکاری نظامی-فنی امضا کردند. دویچه‌وله، تاریخ نشر۱۴۰۵/۳/۷ قابل دسترسی:

[2]. محمد یعقوب مجاهد: پاکستان در آینده نزدیک جرئت نخواهد کرد به افغانستان حمله کند. بی‌بی‌سی فارسی، تاریخ نشر۳۰ می ۲۰۲٦ قابل دسترسی:

[3]. روابط روسیه و طالبان و آینده رقابت آمریکا در افغانستان، سایت بررسی تحولات افغانستان، تاریخ نشر ۱۴۰۵/۳/۱۵ قابل دسترسی:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000